# اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ». (يا الله! زه پر تا له زياتو قرضونو، د دښمن له غلبې او د دښمنانو له خوشحالۍ پناه نيسم)

له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دې الفاظو سره دعا كوله: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الْعَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ». (يا الله! زه پر تا له زياتو قرضونو، د دښمن له غلبې او د دښمنانو له خوشحالۍ پناه نيسم).

[صحيح]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له لاندې شيانو څخه پناه غوښتې ده: لومړى: (اللهم إني أعوذ) (اې الله زه پناه غواړم) (بك) پر تا باندې، او ستا پرته يې پر بل چا نه غواړم (من غلبة الدين) د قرض له غلبې څخه او دا چې راباندې زيات شي، د خفګان او کړاو لامل شي، او ستانه يې د ادا كولو لپاره مرسته غواړم. دويم: (وغلبة العدو) او د دښمن له برلاسي كېدو، د هغه له قهر او تسلط څخه پر تا پناه نيسم، او ستا څخه يې د ضرر د مخنيوي سوال كوم او دا چې پرې برلاسى شم. دريم: (وشماتة الأعداء) او د دښمن له خوشحاليو څخه چې كله مسلمانانو ته كوم مصيبت او تاوان ورسېږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee